د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د طبیعي - تخنیکي علومو د برخې معاونیت
د ریاضي، فزیک او تخنیک علومو مرکز

# د مــقالو غــوښــتنه

**"د هیواد په صنعتي پراختیا کې د نوي ټکنالوژۍ د رول څېړنه" ترسرلیک لاندې د علمي- څېړنیز سیمینارموخه او ارزښت**

د دې سیمینار هدف د نوې ټکنالوژۍ رول ارزول دي، چې څنګه کولای شي د هېواد صنعتي پراختیا او د تولیداتو زیاتوالي ته وده ورکړي. د دې موضوع اهمیت د مخ پر ودې هېوادونو لکه افغانستان لپاره چې له صنعتي وروسته پاتې والي مخنیوی وشي او د اقتصادي پالیسۍ ښه والي ته‌زمینه برابره شي، ډېر مهم او حیاتي بلل کېږي.

**د ښاغلو استادانو، څېړونکو، متخصصینو او کارپوهانود پام وړ !:** د افغانستان د علومو اکاډمۍ د طبیعي- تخنیکي علومو معاونیت، د ریاضي، فزیک او تخنیک علومو د مرکز په نوښت، په پام کې لري چې پورته یاد شوی سیمینار دایر کړي. په دې علمي – څېړنیز سیمینار کې ستاسو فعال او علمي ګډون ته سترګې په لار دی..

## د علمي - څېړنیز سیمینار د مقالو سرلیکونه:

١. د هېواد د زېربناوو په بیا رغونه کې د ساختماني مُډرن ټکنالوژۍ د اغېزو څېړنه
٢. د هېواد پر اقتصادي پراختیا د معلوماتي ټکنالوژۍ اغېزې
٣. د هېواد د صنایعو د ښه والي په برخه کې د پرمختللو انټرنېټي نسلونو ارزونه
۴. په صنعتي سکټور کې سایبري امنیت: ګواښونه او حل لارې
5. د هېواد د حاصلاتو پر لوړولو د اوبو لګولو د عصري ټکنالوژۍ د اغېزو څېړنه
٦. د هېواد د طبیعي زېرمو په مدیریت کې له لرې واټن څخه د سنجش ټکنالوژۍ (Remote Sensing) رول
٧. د تولیدي صنایعو د انرژۍ لګښت مطلوب حد (Optimization) لپاره ریاضیکي موډلینګ
8. د انجنیري او صنعتي سیستمونو په تحلیل کې د دیفرانسیلي معادلو کارونه
9.د فابریکو د چارو تحلیل او مدیریتي پرېکړو کې د احصایې کارول
١٠. په صنعتي تولید د مؤثرو عواملو د ارزونې لپاره د څوګوني خطي رګریشن تحلیل
١١. په ځیرکو سیستمونو کې د تصمیم نیونې عملیو لپاره ریاضیکي موډلینګ
١٢. د بازار په چارو کې د صنعتي‌شرکتونو ترمنځ د سیالۍ لپاره د لوبو تیورۍ کارَوَنه
١٣. د عدم قطعیت په شرایطو په صنعتي تصمیم نیونه کې د فازی ریاضیاتو کارَوَنه
١٤. د افغانستان په پایداره پراختیا د وارداتي ټکنالوژیو د اغېزو تحلیل
١٥. د ټکنالوژۍ په لېږد کې د سیمهییزو او نړیوالو همکاریو رول
١٦. د هېواد په شرایطو کې د ځیرکو ودانیو ارزونه
١٧. د ټرانسپورټي سیستمونو پر پراختیا باندې د مصنوعي ځیرکتیا اغېز
١٨. د هېواد په تولیدي فابریکو د تولید په زیاتولو کې د عصري صنعتي ماشیني وسیلو رول
٢٩. د کرنیزو محصولاتو د پروسس او بسته بندۍ صنعتونو په وده کې د ټکنالوژۍ رول تحلیل
٢٠. د برېښنا رسونې په تنظیم او پراختیا کې د نوو ټکنالوژیو څېړنه او کارونه
٢١. له فوسیلي انرژیو څخه نوي کیدونکو سرچینو ته په اووښتون کې د نویو ټکنالوژیو د رول تحلیل
٢٢. د ساختمان په صنعت کې د نوو ټکنالوژیو ارزونه
٢٣. د پایدار ښار په پراختیا کې د معلوماتي ټکنالوژۍ رول
٢۴ .د صنعتي معلوماتو په خوندیتوب کې د کرپټوګرافي رول
٢٥ .په هېواد کې د ځیرک ټرانسپورټي سیستمونود پلي کولو ننګونې او فرصتونه

**د وټساپ شمېره:** +93785561557 ,+93774557004، **د اړیکو شمېره:**+93202201217 | **برېښنايي پته:** phisycscenter@gmail.com

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د طبیعي - تخنیکي علومو د برخې معاونیت
د ریاضي، فزیک او تخنیک علومو مرکز

# د مـــقالو غـــوښـــتنه

**یاداشت:** د علومو اکاډمی اداره په دې وسیله له ټولو استادانو، متخصـصـینو، څېړونکو او کارپوهانو څخه غوښتنه کوي چې د پورته ذکر شـوو سرلیکونو سره سـم خپلې مقالې د روان کال د سـنبله د میاشـتې تر ۳۱مې نېټې پورې د ریاضي، فزیک او تخنیک علومو مرکز ته را واستوي. رالېږل شوې مقالې بېرته نه مسترد کېږي. د ارزوني کمیسـیون ته د مقالو د ایډیټ بشـپړ واک ورکړل شوی دی. سربېره پر دې، هغه مقالې چې مونږ ته یې را استوئ باید لاندې برخې ولري:

**د علمي - څېړنیزې مقالې برخې**

۱. لنډیز (Abstract)
۲. لنډیز په ملي ژبه
۳. سریزه
۴. د څېړنې اهمیت
۵. د څېړنې مبرمیت
٦. د څېړنې موخه
۷. د څېړنې پوښتنه
۸. د څېړنې مېتودولوژي
۹. د څېړنې منځپانگه
۱۰. پایله
۱۱. سپارښتنې
۱۲. په متن کې ماخذونه
۱۳. مأخذونه

**د مقالې معیارونه او ځانگړتیاوې:**

۱ .مقاله د ۵ او ۱۰ معیاري مخونو ترمنځ وي.
۲ .د متن اندازه دې ۱۲–۱۳ وي او د کرښو ترمنځ واټن Single (واحد) وي.
۳ .د عنوانونو اندازه دې ۱۴ بولډ وي.
۴ .د پارسي متن لپاره فونټ Bahij Nazanin او د پښتو لپاره فونټ B Zar وټاکل شي.

**پته:** طره باز خان واټ، د شاه بوبو جان د جومات کوڅه، نوی ښار د تېلو پمپ مخامخ، کابل، د افغانســتان د علومو اکاډمي، د ریاضي، فزیک او تخنیک علومو مرکز.
**برېښنايي پته:** pyisycscenter@gmail.com
**د وټساپ شمېره:** +93785561557 , +93774557004 ، د اړیکو شمېره: +93202201217